AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

م. ص. اندړ
۲۰۰۸/۱۱/۳۰م

# د کراچۍ په لوی ښار کې ستره بې نظمي
# او د واکمن حکومت بې خبری

د ډېرو اوړدو ورځو راهیسې په کراچۍ کې ډېره زیاته بې نظمي روانه ده ، هلته هندي مهاجر راولاړ سوی او پښې یې بډ وهلي چې دا نور قومونه دلته حق نلري چې ژوند وکړي او خصوصاً پښتانه، خو دا دوه درې ورځې کیږي چې دا حالت زورور سوی او وړمه ورځ د تقریباً ۲۰ پښتنو نه یې پزې او غوږونه پرې کړي او پښتانه بیا هم کرار ندي کښیناستلي او د شلو نه زیات هندي مهاجرو په سترګو او غوږونو کې هغه مخصوص سرش چې دلته د الفي سرش په نامه شهرت لري توی کړي دي ، همداسې په اکثرو ځایونو کې د پښتنو دوکانونه تړل شوي دي .
په یقین که دا حالت دوام ومومي نو یو لوی او ستر بدلون به رامنځ ته شي او بیا به نو د حکومت د توانه به د حالت قابو کول ووځي او دا چې دا ښار کې مختلف قومونه ژوند کوي او همداسې دا ښار د ډېر اهمیت درلودونکی ښار دی ولې چې دا یو مهم صنعتي او تجارتي ښار دی چې اضافه تر ۳۰ میلیونه نفوس لري همداسې ګاونډي هیوادونه خصوصاً افغانستان ورته ډېر اړتیا لري البته د تجارت په برخه او همداسې د طبابت په ساحه کې هم ډېره سخته اړتیا ورته لیدل کیږي ، همدا اوس اوس په سلګونو زره افغانان پکې اوسیږي او حتی همدا اوس چونکه په افغانستان کې هسې پرمختللي روغتونونه نسته نو ډېری خلك هلته ځي تر څو خپل د مریض علاج یې کړی وي .
یوه موضوع چې روښانه ده هغه دا ده چې په دې بې نظمي کې هم همدغه د انګلیس او امریکا ککړ او چټل لاسونه ښکیل دي تر څو دلته هم قومونه سره واچوي او بیا ووایي چې اوس نو سوله ساتي ځواك ته ضرورت دی چې ورسي او حالت قابو کړي او که نه خو دا عمرونه دي چې دا قومونه یو ځای سره ژوند کول او هیڅ مشکل یې نه درلود خو دا مفکوره بیا له کومه رامنځ ته شوه چې سره ولویږي او یو د بل غوښې وخوري .

د نورو محترمو ورونو څخه هم هیله کوم تر څو تازه او نوي مالومات راټول کړي او ګرانو وطنوالو ته یې وړاندې کړي ولې چې ما تر اوسه د مستندو رسنیو له خوا کوم شي ندی اوریدلی خو دا چې زه څنګه مالومات لرم دا پدی خاطر چې زه کراچې کې کور لرم او دا بې نظمی ډېره خواشینی کړی هم یم نه یوازې د ځان په خاطر بلکه ډېر زیات پښتانه هلته اوسیږي نو کیدای شي د دوی تجارت ته هم تاوان ورسیږي ، همداسې زیات بې وزله خلك هلته شپې سبا کوي تر څو کور ته یوه ګوله ډوډۍ راوړي خو .......

مننه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de